شاه‌ولی ارین ۲۰۲۶/۰۱/۲۰

# نړۍ د انارشیزم او زورواکۍ په لور

## (څلورمه‌برخه)

دونالد ترمپ د ونزویلا د ولس مشر مادورو تر نیولو وروسته په خپلو خبرو کې کولمبیا او کوبا هم و ګواښل او د خپلو ستراتیژیکو موخو د لاسته راوړلو په لړ کې یې د ګرینلنډ د جزیرې د لاسته راوړلو، د ایران د هستوي وسلو د مخنیوي او په ایران کې د روان بحران او ولسي پاڅون په ملاتړ چې غربیانو راپارولی دي غږ پورته کړ.

ولسمشر ټرمپ د مخه هم د دنمارک مقاماتو ته ګواښ کړی و، چې له هر امکاناتو نه په استفادې سره به د ګرینلنډ جزیره تر لاسه کوي، ځکه د هغه په وینا ترمپ او امریکا ته دغه جزېره حیاتي ارزښت لري. مګر د دنمارک دولت په دغه رابطه پخوا هم د امریکا دغه غوښتنه په ډېرو ساده الفاظو رد کړې وه. مګر اوس مهال ګرینلنډ یو ځل بیا د امریکا او ډنمارک ترمنځ د سیاسي تاوتریخوالي په مرکز بدل شوی، وروسته له هغې چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ بیا د امریکا له پاره د ګرینلنډ د ستراتېژیک اهمیت یادونه کړې او تاکید یې پرې کړی دی.

اوس چې د ونزویلا د مشر د نیولو وروسته د امریکا د ولسمشر ترمپ سترګې سرې شوي دا ځل یې په ډېر صراحت سره وویل چې ګرینلند به دوي په حتمي توګه تر لاسه کوي، که د زور او تاوتریخوالی له لارې هم وي.
د ترمپ د دغه ګواښ په اړوند د دنمارک هېواد صدراعظمې مېټه فریدریکسن هم جدي غبرګون وښود.

د امریکا د ولسمشر ترمپ د دغو څرګندونو په غبرګون کې د ناټو د اووه غړو هېوادونو، چې ډنمارک هم پکې شامل دی، په یوه ګډه اعلامیه کې ټینګار کړی چې یوازې ډنمارک او ګرینلنډ حق لري د دې سیمې د راتلونکې په اړه پرېکړه وکړي. دا دریځ د امریکا د ولسمشر ډونالد ټرمپ د وروستیو څرګندونو په غبرګون کې نیول شوی، هغه چې ویلي یې و، غواړي د ګرینلنډ کنټرول تر لاسه کړي.

په دې اعلامیه کې، چې د سې شنبې په ورځ خپره شوې او د ډنمارک د لومړۍ وزیرې د دفتر له خوا په ټولنیزه شبکه «ایکس» کې بیا خپره شوې، ویل شوي دي:

«ګرینلنډ د خپل ولس ملکیت دی، او یوازې ډنمارک او ګرینلنډ کولای شي د هغو موضوعاتو په اړه پرېکړه وکړي چې له ډنمارک او ګرینلنډ سره تړاو لري».

دا اعلامیه د ډنمارک د لومړۍ وزیرې مېټه فریدریکسن، د بریتانیا د لومړي وزیر کېیر سټارمر، د فرانسې د ولسمشر امانوېل مکرون، د جرمني د صدراعظم فریدریش مرتس، د ایټالیا د لومړۍ وزیرې جورجیا مېلوني، د پولنډ د لومړي وزیر ډونالد توسک او د اسپانیا د لومړي وزیر پدرو سانچز لهخوا لاسلیک شوې دی.

د ګرینلند د جزیرې د په زور نیولو ګواښ کیدای شي ښاغلی ټرامپ د لویدیځي نړۍ له پاره د ناټو د پوځي سازمان په له منځه وړلو کي اوس د وارسا د پوځي ټرون د ویجاړونکي ښاغلي ګورباچف په څېر خپل نوم په تاریخ کي ثبت کړي. خو ښاغلي ګورباچوف خپل ستر هیواد شوروي اتحاد هم دړې وړې کړ، اوس معلومه نده چې د ښاغلي ټرمپ له ناټو پوځي ټرون سره مخامخ تقابل به د امر یکایي فدراسیون بشپړتیا ته هم کوم ګواښونه رامنځته کړي اوکه به امریکا د خپل پوځي او اقتصادي ځواک په عظمت سره بشپړه پاته شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ترمپ له نظره امریکا غواړي چي ګرین لینډ کي لوی نظامي اډه جوړه کړي تر څو په سمندر کي د روس او چین تګ راتګ محدود کړي او یا یې د سخت څار لاندې راولي، له بله پلوه ګرین لینډ کي ډېر منرالي معدنیات هم شته چي امریکا په خاص ډول ترمپ علاقمندي لری چي دغه د معدنیاتو سیمې ته زر ځان ورسوي.

داسي ویل کېږي چي د اروپا تر ټولو خوشحاله او لږ نفوسه خلک همدلته ګرین لینډ کي اوسیږي. خو دوي په خپل ژوند کي تر ټولو خوشحاله خلک دي، چي دغه خوشالي اوس امریکا غواړي ورڅخه واخلي او دوی ته یې ګواښ کړی چي دغه سیمه امریکا ته وسپاري. امریکا ورته ګواښ هم کړی چي په نظامي زور یې هم اخیستي شو. او د امریکا مخه به هیڅوک ونه شي نیولای، ځکه چي امریکا دغي سیمي ته اړتیا لري.

اوس مهال اروپایان ډېر ورخطا دي. همدا څو ورځي مخکي په همدي اړوند د جرمني په برلین ښار کي غونډه وشوه او په دغه غونډه کي پریکړه وشوه چي په هیڅ حال کي په ګرین لینډ امریکا ته نه ورکوو. ځکه، که چیرته دغه ستونزه جدي شوه نو ناټو به هم له منځه ولاړه شي.

اروپایي مشران اوس پوهیږي چه امریکا ورباندې هغه چارې وکړي چه روسیي ممکن هیڅکله پر دوي باندې نه وای کړي.

د هنګري، هسپانیا، ایتالیا ، سلواک ، جرمني ، ترکي او بلجیم، مشران اوس پدې فکر کوي چه ، مونږ باید روسیه پردۍ و نه ګڼو، بلکي د دوستۍ او اتحاد لاس ورته ورکړو، چې دا خبره یونیم کال مخکي د روسیي د ولسمشر نظامي مشاور دیمیتري مدویدوف په یوه خبري کنفرانس کي اروپایانو ته کړي وه ، خو دوی ډیر ګرم وو، او نه یې وه اوریدلي. اوس یې چه وکتل امریکا خو د لیوه تقسیم ته شروع کړیده او اروپا فقط د روسیي پر ضد استعمالوي، ایران او وینزویلا ځانته خوري، نو اوس یې د روسیي خبرې ته پام شو.

روسیي هم د امریکا له دغه استعماري سیاست نه د ونزویلا په اړوند ګټه پورته کړه او د اوریشنیک توغندي په واسطه یې د اوکراین د طبیعي ګازو د ذخیره کولو ترټولو لوی تاسیسات وویشتل، کوم چي اوکراین او اروپا تري ګټه پورته کوله.

اوریشنیک توغندي چي د ډیرو سر ګلولو ورتیا لري راپورونه زیاتوي چي په سیمه کي د زیات شمیر نورو چاودنو غږونه اوریدل شوي دي، او بریښنا یې تاسیسات یې هم ویجاړ کړی دي. ویل کېږي چي دغه توغندي ډېر خطرناک دي او دا لومړی ځل دی، چي په اوکراین توغول کیږي.

نوربیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ